

# کورونو کښې مسجِدِ بیت

# جوړول سُنَّت دي

پښتو


شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابُو بلال

**مُحَمَّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# کورونو کبنې مسجِدِ بیت جوړول سُنَّت دي

یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "**کورونو کبنې مسجِدِ بیت جوړول سُنَّت دي**" اولولي یا واوري، هغوئي ته د سجدو خوندونه نصيب کړې او بے حسابه ئې اوبخښې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

فرمانِ مصطَفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "چا چې په ما يو ځل دُرُودِ پاک اولوستو الله پاک به هغه لس رَحمتونه ليږي او د هغه په عمل نامه کښې لس نيکئ ليکي."

(ترمذی ج2 ص28 حدیث 484)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشِقانِ رسول! "مسجدِ بَيت" جوړول يعني خپل کور کبنې د لمَانځه د پاره يو ځائے مخصوص کول سُنَّتِ اَنبياء هم دي او سُنَّتِ مصطفٰی هم، مونږ له هم په دې سُنَّت باندې عَمَل کول پکار دي. د الله پاک د ټولو آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په کور کبنې دننه هم **مسجِدِ بَيت** وو.

اللہ پاک په سیپاره 11 سورۃُ یُونُس آیت 87 کښې اِرشاد فرمائي:

وَاَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰى مُوۡسٰى وَاَخِيۡهِ اَنۡ تَبَوَّاٰ لِقَوۡمِكُمَا بِمِصۡرَ بُيُوۡتًا وَّاجۡعَلُوۡا بُيُوۡتَكُمۡ قِبۡلَةً وَّاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ ؕ وَبَشِّرِ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ

[مفهوم] ترجمہ کنزالایمان: او مونږه موسٰی او د هغه وررور ته وحي اولیږله چې په مصر کښې د خپل قوم د پاره کوروونه جوړ کړه او خپل کورونه د لمُونځ ځایونه کړه، او لمُونځ قائم کړه او مسلمانانو له زیرے ورکړه.

## په کور کښې د لمَانځه د پاره ځائے مخصوص کول "سُنَّت" دي

په "نورُ العِرفان" کښې دي: د دې نه معلومه شوه چې د اوسیدو کورونو کښې "کور جمات جوړول، کوم ته چې **مسجِدِ بَیت** وئیلے شي، سُنَّتِ اَنبیاءَ (عَلَیۡهِمُ السَّلَام) دي چې مسلمان د کور یوه حِصّه د لمَانځه د پاره پاکه اوساتي او په هغې کښې زنانه اِعتِکاف اوکړي، دا هم معلومه شوه چې کورونو کښې بعضې لمُونځونه کول پکار دي، فَرض په جُمات کښې، سُنَّت نَفل په کور کښې، مفتي صاحب نور فرمائي: کور کښې د لمَانځه د پاره ځائے مخصوص کول (یعني مسجِدِ بَیت جوړول) "سُنَّت" دي.

(نور العرفان ص 347)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب _ ❀❀❀ _ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

# د خوږ نبي ﷺ د لمَانځه ځايونه "مسجِدِ بيت" جوړولو (واقعه)

حضرتِ اُمِّ سُلَيم رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا په بارګاهِ رِسالت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تاسو زما کور ته تشريف راوړئ او لمُونځ ادا کړئ چې ستاسو صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لمُونځ کولو ځائے زه د خپل لمُونځ کولو ځائے (يعني مسجِدِ بَيت) جوړ کړم، د الله پاک خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي کور ته تشريف يوړلو او لمُونځ ئې ادا کړو. (نَسائی ص128 حدیث734 مُلخّصاً)

په "مِرآت" کښې دي: د کور په کوټ کښې ئې خو لمُونځ ځکه ادا کړو چې هغه کور د حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نَفل ادا کولو باندې برکتي شي او دغه ځائے د کور والؤ د پاره دائمي (يعني مستقل طور) جائے نماز (يعني مسجِدِ بَيت) جوړ شي.

(مِراٰۃ ج3 ص199)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

# خوږ آقا ته کور ته د تشريف راوړلو درخواست (واقعه)

صَحابئ نبي، حضرتِ عِتبان بِن مالک رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: ما به خپل قوم "بَني سالِم" له جُمعه ورکوله. زما او د هغوئي په مينځ کښې يو خوړ وو، چې کله به باران وو نو ما ته به جمات ته تلل ډير ګران وو. د الله پاک د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار

کښې زه حاضر شوم او عرض مې اوکړو چې زما نظر کمزورے شوے دے او زما د قوم (بني سالِم) ترمينځه يو خوړ بهيږي، چې کله باران وي نو زما هلته رسيدل ډير ګران شي، زه غواړم چې تاسو زما کور ته تشريف راوړئ او هلته لمُونځ ادا کړئ چې زه ستاسو هغه ځائے خپله مُصَلّٰی (يعني د لمُونځ ځائے) جوړ کړم. د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: ”اِنْ شَآءَ الله ډير زر به زه درشم.“ حضرتِ عِتبان بِن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: بله ورځ د لمَر راختو نه پس حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت ابوبکر صدّیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره تشريف راوړو او (د خپل عادت مطابق ئې) کور ته د راننوتلو اجازت اوغوښتلو، ما کور ته د تشريف راوړلو خواست اوکړو. حضورِ رحمتِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشريف اينبودو نه مخکښې اِرشاد اوفرمائيلو: ”ستا کوم يو ځائے خوښ دے چرته چې زه لمُونځ ادا کړم؟“ حضرتِ عِتبان بِن مالِک رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زما چې کوم ځائے خوښ وو ما هغه طرف ته اشاره اوکړه. حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اودريدلو او مونږ په هغوئي پسې صف جوړ کړو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه رَکعَته لمُونځ ادا کړو او سلام ئې اوګرځولو او مونږه هم سلام اوګرځولو. ما د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره جوړه کړے شوې ”خَزِيره“ (يعني د غوښې نه جوړه کړے شوې يو قسم خوراک) حاضرولو د پاره سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حِصار کړو. محَلّے والؤ ته چې معلومه شوه چې رسولِ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما کور ته تشريف راوړے دے نو هلته ډير زيات خلق راجَمع شو. (بخاري ج1 ص399 حديث 1186)

د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغه ټولو رَحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دې زمونږه بے

حسابه بخښنه وي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

سُنا ہے آپ ہر عاشق کے گھر تشریف لاتے ہیں

مِرے گھر میں بھی ہو جائے چَراغاں یا رسُولَ اللہ

شارِحِ بُخاري حضرتِ مفتي شريف الحق امجدي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د حديث نه ثابته شوه چې په کومو ځايونو خوړ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لمُونځ ادا کړے دے هغه بَرَکَتي شوي دي او د هغې نه برکت حاصلول، بالقصد (يعني اِرادةً) هلته لمُونځ ادا کول د صحابهٔ کرامو (رَضِيَ اللّٰهُ عَنهم) سُنَّت دي. (نزهة القاری ج2 ص141 بتغير قليل)

حضرتِ امام ابو زَکَرِيَّا بِن شَرف نَوَوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شَرح کښې فرمائي: د مَحَلّے والؤ او کاؤنډيانو د پاره مَستَحَب دي چې که چرې په هغوئي کښې د چا کور ته څوک نيک بنده تشريف راوړي نو د هغوئي د زيارت او د هغوئي نه بَرَ کتونه حاصلولو د پاره جمع شي. او دې کښې هم هيڅ باک نشته چې په کور کښې د لمَانځه وغيره د پاره يو ځائ خاص کول (يعني مسجِدِ بيت جوړ کړے) شي. (شرح مسلم للنووی ج5 ص161)

شاہِ جِنّ و بشر! خیر سے میرے گھر

تیرے آئیں قدم، تاجدارِ حرم

(وسائل بخشش ص 253)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ”مسجِدِ بَيت“ څه ته وائي؟

په کور کښي چې کوم ځائ د لمَانځه د پاره مخصوص کړے شوي هغې ته ”مسجِدِ بَيت“ وائي. (فتاوٰی رضويه ج22 479 بتغير)

## د ”جمات“ او د ”مسجِدِ بَيت“ لمُونځ په ثواب کښي فرق

مُفتي شريفُ الحق امجدي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: هغه (يعني د کور جمات) به فِقهي اِصطِلاح کښې جمات نه وي او نه هلته د لمُونځ کولو ثواب هغه دے کوم چې جمات کښې د کولو دے، ترڅو چې هغه د جمات د پاره ”وَقف“ نه کړے شي او د هغې لاره د کور د لارې نه بدله نه کړے شي چې کله مسلمان اوغواړي، هلته لمُونځ کولے شي.

(نزهة القاری ج2 ص177)

## وَقف څه ته وائي؟

**اوس** تاسو د ”وَقف“ په باره کښي اولوستل، راځئ! اسلام کښې ”وَقف“ څه ته وائي؟ د دې نه هم ځان خبر کړو، بهارِ شريعت جلد 2 په صَفحه 523 کښې دي: د وَقف ادا معنٰی ده چې يو څيز د خپل ملکيت نه اوباسلے شي او خالِص د الله پاک په ملکيت کښې ورکړے شي داسې چې د هغې نَفع د الله پاک بندګانو کښې چې څوک اوغواړي حاصلولے شي. (عالمګيري ج2 ص350)

# په مدینه کښې د ټولو نه وړومبے مسجِدِ بیت چا جوړ کړے وو؟

صَحابيِ رسول حضرت عَمَّار بِن یاسِر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ (په مدینه منوره کښې دننه په ټولو صحابهٔ کرامو کښې) وړومبے خپل کور کښې مسجِدِ بیت جوړ کړے وو کوم کښې چې به هغوئي عبادت کولو. (البدایة والنهایة ج5 ص418)

# د الله پاک د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم د سجدے ځائے (واقِعه)

**اُمُّ الْمُؤمِنِیْن،** حضرت بي بي عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا ارشاد فرمائي: ما یوه شپه د دواړو جهانونو سردار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بستره په آرام کولو اونه لیدلو نو د هغوئي لټون مي شروع کړو، لټولو کښې زما لاس د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُبارَکو تَلوو سره اولګیدل، هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سجدے په حالَت کښې خپل **د سجدے ځائے** کښې دا لوستل:

اَللّٰھُمَّ اَعُوذُ بِرِضَاکَ مِن سَخطِکَ، وَبِمُعَافَاتِکَ مِن عُقُوبَتِکَ،
وَاَعُوذُبِکَ مِنکَ، لَآ اُحصِی ثَنَآءً عَلَیکَ اَنتَ کَمَآ اَثنَیتَ عَلٰی نَفسِکَ.

یعنی اے الله پاکه! زه ستا د رضا په سبب ستا د ناراضۍ نه او ستا د مُعافۍ په سبب ستا د عذاب نه پناه غواړم زه ستا تعریف هغه شان نشم کولے څنګه چې تا خپل تعریف پخپله فرمائیلے دے. (مسلم ص199 حدیث 1090)

حضرتِ علّامه قاري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د حدیثِ پاک د دې حصّے ”د خپلې سجدے

ځائے“ په شَرح کښې ليکي: هغه ځائے چرته چې د الله پاک خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپله مُبارکه حُجره کښې لمُونځ ادا کولو، او دا هم کيدے شي چې هغه ”مسجِدِ نَبَوي“ وي. (مرقاۃ المفاتیح ج2 ص612 مُلخّصاً)

په ”مِرآت“ کښې دي: يعني په سجده کښې ئې دعاګانے غوښتلې، مسجِدِ نَبَوي د حضرتِ عائِشه رَضِیَ اللہُ عَنۡھا د حُجرے سره بِالکل لګيدلے وو، هغه طرف ته دروازه وه ځکه د هغوئ لاس د خپلې بسترې نه جمات ته اورسيدلو. (مِرآت ج2 ص82)

## د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم مَسجِدِ بَيت

اُمُّ الْمُؤْمِنِیْن (يعني د مسلمانانو مور بي بي) حضرتِ ميمونه بي بي رَضِیَ اللہُ عَنۡھا ارشاد فرمائي: ”زه به د خپل لمُونځ نه کولو په ورځو کښې د نبـي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سجدے ځائے برابر کښې څملاستم.“ (بخاري ج1 ص132 حدیث 333)

حضرتِ امام کِرماني رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د دې حديثِ پاک په شَرح کښې ليکي: دلته د سجدے د ځائے نه مُراد د نبـي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سجدے ځائے (مسجِدِ بَيت) دے، دلته مسجِدِ نَبَوي شريف مُراد نه دے. (عمدۃ القاري ج3 ص184 مُلخّصاً)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## کورونه قبرونه مه جوړوئ

فرمانِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ”خپل څه لمُونځونه د خپلو کورونو د پاره مُقرَّر

کړېږئ او کورونه قبر مه جوړوئ.“ (مسلم ص306 حديث1821)

**حضرتِ** مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د دې حدیثِ پاک په شَرح کښې لیکی: داسې چې فرض په جمات کښې ادا کړېږئ او سُنَّت او نفل په کور کښې یا پینځه واړه لمُونځونه په جمات کښې ادا کړېږئ او تَهَجُّد وغیره په کور کښې، چې د لمُونځ نُور په کورونو کښې پاتې شي او زنانه او ماشومان چې تاسو اووینې چې د هغوئي هم شوق پیدا شي، د کور په لمُونځ کښې رِیا کمه وي. (مراۃ ج1 ص441)

حضرت علامه ابنِ بَطّال رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د دې حدیث په شَرح کښې لیکي: په کوم کور کښې چې لمُونځ نه ادا کیږي د هغه کور د قبر سره تشبیه ورکړې ده (یعني د قبر په شان ګرځولے شوے دے). (شرح بخاری لابن بطال ج3 ص186) یعني داسې مه کوئ لکه څنګه چې مړه شوي خلق په قبرونو کښې لمُونځ نه کوي، تاسو هم په خپلو کورونو کښې لمُونځ نه کوئ.

## کور کښې نَفَل ادا کولو کښې خیر او بَرَکت دے

د الله پاک خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ”چې کله تاسو کښې څوک خپل جمات کښې لمُونځ ادا کړي نو هغه له پکار دي چې د خپل کور د پاره څه حصه پاتې کړي ځکه چې الله پاک به د دغه لمُونځ په وجه د هغه په کور کښې خیر او بَرَکت عطا کړي.“ (مسلم ص306 حديث778)

حضرتِ علّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د دې حدیثِ پاک په شَرح کښې

ليکي: فَرض لمُونځ د جَمعې سره په جمات کښې ادا کړئ ځکه چې جماتونه خاص د دې د پاره جوړ کړے شوي دي. نَفَل لمُونځ خپل د اوسيدو ځائے کور وغيره کښې ادا کوئ ځکه چې د دغه لمُونځ برکتونه به ستاسو کور او په هغې کښې اوسيدونکو ته حاصليږي. حضرتِ امام عِراقي رَحمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې موقع دا ارشاد هم اوفرمائيلو چې"لمُونځ رِزق راوستونکے دے." (فيض القدير ج 1 ص 535)

يو بل حديثِ پاک کښې دي: د الله پاک په ذِکر او د تلاوتِ قرآن په کثرت سره خپل کورونه روښانه کړئ. (شرحِ ابنِ بطال ج 3 ص 177)

## نوافِل په مسجِدِ بَيت کښې ادا کړئ

د نيک جوړيدو يوه بهترينه طريقه هره ورځ د خپلو اعمالو جاج اخستلو سره د **مکتبةُ المدينه** د رسالې: "**نيک اَعمال**" کښې د ورکړے شوؤ خانو ډکول او د هرې مياشتې په وړومبي تاريخ د خپل "شعبهٔ اِصلاحِ اَعمال" ذمه وار ته جمع کول هم دي. دې رساله کښې د خپل مسجِدِ بَيت (يعني د کور جمات) کښې د لمُونځ کولو ترغيب موجود دے. ځکه چې څومره کيدے شي اِسلامي وروڼه دې **تهجُّد**، اِشراق، څاشت، **اَوّابين**، **صلوٰةُ التّوبه** وغيره خپل **مسجِدِ بيت** کښې ادا کړي او اَسلامي خويندې دې هم پينځه واړه فرض لمُونځونه خپل "**مسجِدِ بَيت**" کښې ادا کړي.

## سُنَّتونه جمات کښې ادا کړئ

**بیشکه** د فَرض رَکعَتونو نه مخکښې او وروسته سُنَّتونه په کور کښې د ادا کولو اَحادیث مبارکۆ کښې ترغیب موجود دے خو اوس د مسلمانانو انداز بدل شوے دے، که څوک جمات کښې صرف فَرض رَکعَتونه کوي نو د هغه په باره کښې خلقو ته وَسوَسه راتلے شي چې دا کَس سُنَّتونه نه ادا کوي. ځکه مسلمانان د غِیبت، تُهمَت او بدګمانۍ وغیره ګناهونو نه د بچ کولو په نیَّت سره سُنَّتونه اوس جمات کښې ادا کړئ. په دې باره کښې د اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَیۡه فرمان په آسانو الفاظو کښې د وړاندې کولو کوشش کووم: "نن سبا عام مسلمانان سُنَّتونه جماتونو کښې ادا کوي او د عامو مسلمانانو د معمول نه اخوا کیدل د ګوتو اوچتولو او بدو ردو وئیلو سبب دے او د دې نه د غِیبت او بد ګمانۍ دروازې پرانستے کیږي. کور کښې سُنَّتونه ادا کول مُستَحَب کار وو خو د دې حِکمتونو (یعني د خلقو بد ګمانۍ وغیره ګناه کښې د اخته کیدو د اندیښنو) له وجې د دې (یعني په کور کښې د سُنتو ادا کولو) کار پریښودل زیات اهم دے."

(اوګورئ فتاویٰ رضویه، جلد 7، صفحه 416)

## په هر کور کښې "مسجِدِ بَیت" جوړ کړئ

اے د لَمانځه عاشقانو! د مخکښینو پاکو خلقو په دور کښې به د مسلمانانو په کورونو کښې مسجِدِ بَیت (یعني د کور جمات) وو. افسوس! اوس په کورونو کښې بیډ روم، ډرائنګ روم، ډریسنګ روم، اسټډي روم، فټنس روم، ټي وي لاؤنج او نور نور څه

جوړولے کیږي! صرف ”**مسجِدِ بَیت**“ او د اوداسه ځایونه نه جوړیږي. هِمَّت اوکړئ! د ښه ښه نیتونو سره خپلو کورونو کښې مسجِدِ بَیت جوړ کړئ او د ثواب حَقدار جوړ شئ. ”بهارِ شریعت“ کښې د مسجِدِ بَیت ترغیب ورکړے شوے دے او لیکلے شوي دي: ”د زنانه د پاره دا مُستَحَب هم دي چې کور کښې د لَمانځه د پاره ځائے **مخصوص** کړي او که اوغواړي نو هغه ځائے دې صفا سُترا ساتي او بهتر دا دي چې هغه ځائے دې د چبوترې وغیره په شان اوچت کړي. بلکه سړو له هم پکار دي چې د نَوافِلو د پاره کور کښې ځائے مُقرَّر کړي چې نَفل لمُونځ کور کښې کول افضل دي.“

(در مختار و رَدُّ الْمُحتار ج 3 ص 494، بهارِ شریعت ج 1 ص 1021)

**یاد ساتئ!** د مسجِدِ بَیت د پاره پوره کمره جوړول جائِز خو ده خو ضَروري نه ده، یوه کمره کښې چې یو کَس لمُونځ کولے شي دومره ځائے که هم مقرر کړے شي نو کافي ده، د دې بیل ځائے جوړول وغیره هم ضروري نه دي. (فیضانِ نماز ص 537 بتغیر)

## کورونو کښې مسجِدِ بیت جوړول د بُزُرګانو طریقه ده

**مسجِدِ بَیت** د لَمانځه ادا کولو د ځایونو نه دے او د بُزُرګانِ دین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم عادتِ مُبارَکه دے چې هغوئي به خپلو کورونو کښې د لَمانځه ادا کولو د پاره ځائے **مخصوص** (یعني ”مسجِدِ بَیت“) کولو. (فتح الباري لابن رجب ج 3 ص 169)

## د مسجِدِ بَیت جوړولو حُکمِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

کورونو کښې د مسجِدِ بَیت جوړولو په باره کښې د **اُمُّ الْمُؤْمِنِیْن** (یعني د مسلمانانو

مور) حضرت عائِشه صدِّیقه رَضِیَ اللہُ عَنہا بیانوي چې د ټولو نبیانو سردار، احمد مختار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کورونو کښې د مسجِدِ بیت جوړولو او د هغې صفا سُترا او خوشبوداره ساتلو حُکم اوفرمائیلو. (ابوداؤد ج1 ص197 حدیث 455)

حضرتِ مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د دې حدیثِ پاک په شَرح کښې لیکي: د دې نه "مسجِدِ بَیت" مُراد دے، یعني په کور کښې یوه کمره یا یو کوټ د لمُونځ کولو د پاره اوساتلے شي چرته چې د دنیا هیڅ کار نه کیږي، هغه ځائے د صَفا وي او د خوشبو لِحاظ دې اوساتلے شي. مونږه خپل بُزُرګانِ دِین په دې باندې عمل کوونکي لیدلي دي، اوس د دې رواج ختمیږي. د دې حدیث نه دا معلومه شوه چې جماتونو کښې خوشبو لګول، عطر مږل مُستَحَب دي. (مراۃ ج1 ص443) **یاد ساتئ!** د خوشبو لګولو سره به اوس یا بیا خلقو ته د دې فائِده وي نو خوشبو لګولے شئ ګنې نه.

## د "مسجِدُالنَّبَوي" د ۱۰ حُرُوفو په نسبت

## د مسجِدِ بَیت په باره کښې ۱۰ واقِعات

### (۱) صِدِّیقِ اکبر او مسجِدِ بَیت کښې د عبادت کولو بَرَکَت

د مسلمانانو وړومبے خلیفه عاشقِ اکبر حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د اسلام په

شروع کښې د خپل کور په انګنړ [یعني صحن] کښې مسجدِ بَیت جوړ کړے وو، چرته چې به هغوئي د قرآنِ کریم تِلاوت کولو او لمُونځ به ئې کولو. خلق به د دې ایمان تازه کوونکي منظر کتلو د پاره راجمع کیدل، اَلْحَمْدُلِلّٰه د هغوئي د عِبادت و تِلاوت او د الله پاک په ویره کښې د ژړیدونکي کیفِیَّت نه د متاَثِّره کیدو سره خلق په دینِ اسلام کښې داخل شول. (الریاض النضرۃ ج1 ص92) د الله ربُّ العِزَّت دې په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په برکت زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

یقیناً منبعِ خوفِ خُدا صِدّیقِ اکبر ہے حقیقی عاشِقِ خیرُ الوَریٰ صِدّیقِ اکبر ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب_❀❀❀_صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## (۲) د حضرت بی بی فاطمه مسجدِ بَیت (یعني د کور جمات)

نواسهٔ نبي، صَحابي ابنِ صَحابي، حضرتِ امامِ حَسَن بن مولیٰ علي رَضِیَ اللهُ عَنهما فرمائي چې ما خپله خوږه مور خاتونِ جنَّت حضرتِ فاطمه زَهرا رَضِیَ اللهُ عَنها اولیدله چې په مسجدِ بَیت (یعني د کور جمات) کښې ئې د صبا راختلو پورې نوافِل ادا کول. ما هغوئي د خپل ځان په ځائے د نورو مسلمانانو د پاره په ډیرو زیاتو دعاګانو کولو اوریدلې ده، ما عرض اوکړو: خوږې مورې! څه وجه ده چې تاسو د خپل ځان د پاره څه دُعا نه

کوئ؟ اوئې فرمائيل: ”وړومبے ګاؤنډ دے بيا کور.“ (مَدَارِجُ النَّبوّت ج2 ص461 بتغير) د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په برکت زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ على مُحَمَّد

## (۳) د ټولې ورځې د عبادت نه وزن دارې کلمے

د اللّٰه پاک خوږ آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو ځل د سحر د لمونځ نه پس د اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن (يعني د ټولو مسلمانانو مور) حضرتِ جُوَيرِيَه رَضِیَ اللّٰهُ عَنها حُجرې ته تشريف يوړلو، هغوئي رَضِیَ اللّٰهُ عَنها هغه وخت خپل مسجدِ بَيت کښې وه بيا ئې چې د ځانښت په وخت تشريف يوړلو نو بيا هم هغوئي په هغه ځائے ناسته وه، د اللّٰه پاک خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائيلو: ته د هغه وخت نه ناسته ئې؟ عرض ئې اوکړو: آؤ جي. اوئې فرمائيل: ما د دې ځائے نه د تللو نه پس 4 داسې کلمات درې ځله اولوستلې چې که چرې هغه ستا د ټولې ورځې د عبادت سره وَزن کړے شي نو هغه به ترې درنې خيژي، هغه کلمات دا دي: سُبحانَ اللّٰهِ وَبِحمدِهٖ عَدَدَ خَلقِهٖ، وَرِضَا نَفسِهٖ وَزِنَةَ عَرشِهٖ، وَمِدَادَ كَلِمَاتِهٖ. (مسلم ص1119 حديث 6913)

**ترجمه:** زه د اللّٰه داسې پاکي بيانووم او داسې تعريف ئې کووم چې د ټولو مخلوقاتو برابر، د هغوئي د رضا سبب، د هغه د عرش د وزن برابر او د هغه د کلماتو د سياهۍ برابر. (مطلب دا

دے چې د الله پاک پاکي او تعریف بیشمیره کووم)

## شَرحِ حدیث

حضرتِ مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَیۡہ د دې حدیثِ پاک په شَرح کښې لیکي: د جمات نه مُراد مُصَلّٰی ده یعني د سجدے ځائے یا هغه ځائے کوم چې کور کښې د لمُونځ د پاره مخصوص کړے شوے وي. (کوم ته چې "مسجِدِ بَیت" وائي) یعني ما ستاسو د خوا نه د تللو نه پس دا وظیفه اولوستله کومه چې په عمل کښې ډیره وړه او آسانه ده. که چرې سبا په قیامت کښې الله پاک د تَلې په یو چاېړي کښې ستا د ټولې ورځې وظیفه کیږدي او بل چاېړي کښې زما (وئیلے شوي) دا کلمات کیږدي نو په ثواب کښې به دا کلمات زیات شي. دې جامِع الفاظو کښې ټول خیزونه راغلل یو خیز هم پاتې نه شو ځکه دا جامع وظیفه ده ځکه د دې اَجر هم زیات دے. (مرآۃج3ص339) دا وظیفه د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره خاص نه ده هر یو کَس ئې لوستے شي.

تُو ابدی ہے تُو اَزَلی ہے، تیرا نام عَلیم و علی ہے
ذات تیری سب سے برتر ہے، یا اَللّٰہُ یا اَللّٰہ

(وسائل بخشش ص92)

## د کجورو د خلورو زرو هډوکو (واقِعه)

په بَیان شوې واقعه کښې د زیات ثواب د یوې وظیفې ذکر دے، د هغې نه هم د کمو الفاظو د ډیر زیات ثواب والا د وظیفې یو روایت بیانیږي. اُمُّ الْمُؤۡمِنِیۡن حضرتِ صَفِیَّه بي بي

رَضِیَ اللہُ عَنۡہا ارشاد فرمائي: د الله پاک خوږ نبـي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما خوا له تشریف راوړو، زما خوا کښې د کجورو څلور زره هډوکي پراته وو په کومو چې ما تَسبیح لوستله. دې لیدلو سره حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائیلو: تا په دې هډوکو تسبیح لوستې دې، آیا زه تا ته داسې کلمات زده نکړم کوم چې د دې نه زیات فضیلت والا دي؟ ما عرض اوکړو: ولې نه، ضرور ئې راته اوښائې. ارشاد ئې اوفرمائیلو: نو داسې وایه: سُبۡحَانَ اللہِ عَدَدَ خَلۡقِہٖ
**ترجمه:** الله پاک ته د هغه د مخلوق د شمیر برابر پاکي ده. (ترمذي ج5 ص325 حدیث 3565)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## پاکو بیبیانو به اعتِکاف کولو

**اُمُّ الۡمُؤۡمِنِیۡن،** حضرت عائشه صِدّیقه رَضِیَ اللہُ عَنۡہا روایت کوي چې رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د **رَمضانُ المُبارَک** آخِرۍ عشره کښې اِعتِکاف فرمائیلو. تر دې پورې چې الله پاک هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته وفاتِ (ظاهري) عطا کړو. بیا به د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ازواجِ مُطَهَّرات (یعني پاکو بیبیانو) اعتِکاف کولو. (بُخاري ج1 ص664 حدیث 2026) د الله **رَبُّ الۡعِزَّت** دې په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په برکت زمونږه بے حسابه بخښنه وي. **اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّیٖن** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اُمَّہاتُ الۡمُؤمنین و چار یار
سب صحابہ سے ہمیں تو پیار ہے
(وسائل بخشش ص 700)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

په ”**مِرآت**“ کښې دي: د حُضُورِ انوَر صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وفات (شريف) نه پس اَزواجِ پاک (يعني پاکو بيبيانو) هميشه په خپلو کورونو (يعني مسجِدِ بَيت) کښې اعتِکاف کړے دے. فُقَهاء فرمائي: دې (يعني د زنانه) د پاره کور (مسجِدِ بَيت) کښې اعتِکاف ډير ښه دے. (مِرآۃ ج3 ص212)

## (۴) کور کښې ئې جمات (يعني مسجِدِ بيت) جوړ کړو

صَحابيه حضرتِ بي بي اُمِّ حُمَيد رَضِیَ اللہُ عَنْہا حُکم اوفرئيلو چې د هغې د پاره دې د کور په ځانله کوټ کښې جمات (يعني مسجِدِ بَيت) جوړ کړے شي، هغوئي به هغه (مسجِدِ بَيت) کښې لمُونځ ادا کولو تر دې پورې چې د هغوئي اِنتِقال شريف اوشو. (الاحسان بترتيب صحيح ابنِ حبان ج3 ص318 حديث 2214) د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په برکت زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## په تياره کښې لمُونځ کول څنګه دي؟

په **تياره** کښي لمُونځ ادا کولے شئ، دې کښې هيڅ باک نشته، البته چې دومره ډيره تياره وي چې وحشت پکښې وي او طبيعت ويريږي نو دا به د لمَانځه د خُشوع او خُضُوع خلاف وي، ځکه په داسې تياره کښې لمُونځ ادا کول نه دي پکار.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## (۵) سرکار ﷺ په مسجِدِ بَیت کښې د جَمعې سره لمُونځ اوکړو

حضرتِ اَنس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: حضرتِ ابو طَلحه اَنصاری رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په خپل کور کښې یو مسجِدِ (بَیت) جوړ کړے وو، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بارګاه ته پیغام اولیږلو نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما له او حضرتِ ابو طَلحه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ له هغه (مسجِدِ بَیت) کښې د (نَفل) لمُونځ جَمع راکړه او حضرتِ اُمِّ سُلیم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا په (لَمَانځه کښې) په مونږ پسې شاته (ولاړه) وه. (معجم کبیر ج5 ص91 حدیث 4679)

## (٦) مسجِدِ بَیت کښې په سجده کښې مرګ

د حضرت وَلید بن مُسلِم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ نه روایت دے چې صَحابئ رسول حضرتِ ابو ثَعلَبَه خُشَنـي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د عبادت ګزاره صحابهٔ کرامو عَلَیۡہِمُ الرِّضۡوان نه وو او د هغوئي شمیر به په ''اَهلِ صُفَّه'' کښې کیدلو. هغوئي به فرمائیل: ''اُمِّید دے چې الله پاک به ماله د غفلت مرګ نه راکوي خنګه چې نورو ته ورکولے شي.'' راوي (د هغوئي یو کرامت) بیانوي او فرمائي چې حضرتِ ابو ثَعلَبَه خُشَنـي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د کور په صحن کښې تشریف فرما وو چې ناڅاپه یو غیبي آواز اوشو: ''اے عبدالرحمٰن!'' حالانکه صَحابئ رسول حضرتِ عبد الرحمٰن رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د رسولِ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره په یوه غَزوه کښې شهید شوے وو. چې کله حضرتِ ابو ثَعلَبَه خُشَنـي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ محسوسه کړه چې د وفات

وخت راغلے دے نو مسجِدِ بَیت (یعني کور جمات) ته ئې تشریف یوړو او په سجده پریوتو. او د سجدے په حالت کښې هغوئې رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وفات شو. (اللہ والوں کی باتیں ج2ص54۔57)(حلیۃ الاولیاء ج2ص37۔39رقم1414) د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئې رَحمت وي او د هغوئې په برکت زمونږه بے حسابه بخښنه. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ـ ❀❀❀ ـ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (۷) حضرتِ عمر بن عبد العزیز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ په مسجِدِ بَیت کښې

حضرتِ مُسافِع بِن شَیبَه رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ یو ځل د خپل ځوي سره د اَمِیْرُ الْمُؤْمِنِیْن حضرتِ عُمَر بِن عبدُالعزیز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ میلمه شو، هغوئې اوفرمائیل چې خپل ځوي میلمه خانې ته اولیږه او ته زما سره زما کور ته راځه (ځکه چې مُسافِع د هغوئې د بي بي محترمې (یعني ښځې صاحبې) محرم خپلوان وو). حضرتِ عُمَر بِن عبدُالعزیز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د ماښام لمَانځه نه پس کور ته تشریف یوړلو او مسجِدِ بَیت کښې ئې سُنَّت او نوافِلو ادا کولو او اوښکو بهیولو کښې مشغول شو، چې کله ډیر زیات وخت تیر شو نو د هغوئې بی بی محترمې غږ اوکړو: "میلمه د خوراک د پاره ستاسو انتظار کوي." حضرتِ عُمَر بِن عبدُالعزیز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ تشریف راوړو او د میلمه نه ئې بخښنه اوغوښتله او اوئې فرمائیل: "هغه کَس څنګه په مړه خیټه خوراک کولے شي په چا چې د مَشرِق او مَغرِب د مظلومانو

دعویٰ جوړیږي.“ (سیرت عمر بن عبد العزیز لا بن الجوزي ص224) د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په برکت زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب _ ❀❀❀ _ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## (۸) د تپوس د پاره به چې تللو نو د مریض په کور کښې به ئې اول لمُونځ کولو

حضرت اِبْنِ شَوْذَب رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ بیانوي چې کله به مونږه د حضرت ثابِت بُناني رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ سره د یو مریض د تپوس د پاره تللو نو د مریض کور کښې به هغوئي اول (هغه کور کښې موجود) مسجِدِ بَیت (یعني د کور په جمات) کښې لمُونځ ادا کولو او بیا به ئې د مریض خوا له تشریف وړلو. (اللّٰہ والوں کی باتیں ج2 ص491) (حلیۃ الاولیا ج2 ص365 رقم2578) د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په برکت زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب _ ❀❀❀ _ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## (۹) د غریبئ عظیم اِنعام

د یو کَس بیان دے چې زه د حضرتِ سُفیان بِن عُیَینَه، حضرتِ فُضَیل بن عِیاض او

حضرتِ عبدُ الله بِن مُبارَک رَحْمَةُاللهِ عَلَيهِم سره ووم چې حضرتِ سُفیان بِن عُیَینَه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اوفرمائیل: حضرتِ ابو محمد عبدُ الله بن مَرزُوق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بیمار دے، مونږ ټول د هغوئي تپوس له څو، ټول حضرات د هغوئي د کور په لور روان شول، حضرتِ ابو محمد عبدُ الله بن مَرزُوق رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه خپل کور کښې بغیر د څه بسترې نه په زمکه ملاست وو، په ډیره مشکله ئې د کپړې په یوه ټوټه سَتر پټ وو او د هغوئي سر د خپل ”**مسجِدِ بَیت**“ په چبوتره وو. حضرتِ سُفیان بِن عُیَینَه رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ارشاد اوفرمائیلو: اے ابو محمده! ما ته دا خبر را رسیدلے دے چې څوک د دنیا سامان پریږدي نو الله پاک هغه ته د دې نه غوره ورکوي او بیشکه تاسو هم د دنیا څیزونه پریښودي دي نو الله پاک تاسو له د دې په بدله کښې څه درکړي دي؟ اِرشاد ئې اوفرمائیلو: **د الله پاک په رِضا راضي کیدل** (ماته نصیب شو) څکه خو تاسو ما د غربت په دې حالت کښې وینئ. (شعب الایمان ج5 ص53 رقم 5749) د الله رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په برکت زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د الله پاک له طرفه مهلت

اے عاشِقانِ رسول! یقینًا چا ته چې د الله پاک په رِضا د راضي کیدو سعادت نصیب شو هغوئي د دنیا د غټو غټو مالدارانو بلکه د بادشاهانو نه هم ډیر خوش قسمته دي.

مونږ له هم پکار دي چې غُربت او تنګدستۍ کښې د صبر نه کار واخلو. غريبانو له داسې ذهن جوړول پکار دي چې الله پاک مونږ ګنهګاران په کوم حالت کښې ساتلي يو دغه حالت زمونږ د پاره بهتر دے. څه پته ده چې مالداره کيدو کښې زمونږ د پاره بربادي وي. د **مکتبةُالمَدينه** کتاب "*شکر کے فضائل*" په صَفحه 34 دي: حضرت عُقبه بن عامِر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د الله پاک د ټولو آخري نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "چې کله تاسو اوګورئ چې الله پاک بندګانو ته د هغوئي د نافرمانئ باوجود د هغوئي د خواهشاتو مطابق عطا کوي نو دا د هغه له طرفه مهلت دے."

(مسند احمد بن حنبل ج 6 ص 122 حديث 17313)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب_❀❀❀_صَلَّی اللّٰهُ علٰی مُحَمَّد

## (۱۰) د حضرتِ عُمَر بنِ عبدُالعزيز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د وينزي خوب

د حضرتِ عُمَر بنِ عبدُالعزيز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه يوه وينزه د هغوئي په خدمت کښې حاضره شوه، هغوئي ته ئې سلام اوکړو او بيا ئې **مسجدِ بَيت** کښې دوه رکعته لمُونځ اوکړو د هغې نه پس هغې له خوب ورغلے، په خوب کښې هغه په ژړا شوه او بيا راويښه شوه او د حضرتِ عُمَر بنِ عبدُالعزيز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت کښې ئې عرض اوکړو: اے **اَمِيرُ الْمُؤْمِنِيْن**! په الله پاک مې دې قسم وي! ما يو عجيبه خوب اوليدلو. هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه تپوس اوکړو: هغه څه دے؟ وينزې عرض اوکړو: ما اوليدل چې دوزخ په دوزخيانو لمْبے

وهي، بيا پُلِ صِراط راوړے شو او د دوزخ په شا کيښودے شو. هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پوښتنه اوکړه: بيا څه اوشو؟ هغې عرض اوکړو: ”خليفه عبدُالمَلِک بِن مَروان“ راوستے شو او هغه په پُلِ صِراط روان شو، هغه لږ مزل اوکړو چې پُلِ صِراط اُلټا شو او هغه دوزخ ته غوزار شو. هغوئي اووئيل: بيا څه اوشو؟ وينزې اووئيل: بيا ”خليفه وليد بن عبدُ المَلِک“ راوستے شو او هغه هم په پُلِ صِراط روان شو، هغه هم لږ مزل کړے وو چې پُلِ صِراط اُلټا شو او هغه هم دوزخ ته غوزار شو. هغوئي پوښتنه اوکړه بيا څه اوشو؟ هغې عرض اوکړو: بيا ”خليفه سُلَيمان بِن عبدُ المَلِک“ راوستے شو او هغه هم په پُلِ صِراط روان شو خو هغه چې هم لږ مزل اوکړو نو پُلِ صِراط اُلټا شو او هغه هم دوزخ ته پريوتلو. هغوئي اوفرمائيل: بيا څه اوشو؟ وينزې عرض اوکړو: په الله پاک مې دې قسم وي! اے اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِيۡن! د دې نه پس تاسو راوستے شوئ. دې اوريدو سره حضرتِ عُمَر بنِ عبدُالعزيز رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه يوه چغه اووهله، بے هوشه شو او راپريوتو. وينزه اودريده او د هغوئي په غوږ کښې ئې په زوره اووئيل: اے اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِيۡن! په الله پاک مې دې قسم وي! ما اوليدل چې تاسو خلاصے بيامونده، په الله پاک دې قسم وي! ما اوليدل چې تاسو خلاصے بيامونده. وينزې داسې وئيل خو هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ډيرې زياتې چغې وهلې.

(احياء العلوم (اردو) ج4 ص554، اِحياءُ العُلُوم ج4 ص231)

**خوږو اومحترمو اسلامي ورونړو! ياد لرئ!** د نبـي نه علاوه د بل چا خوب په شريعت کښې حُجَّت يعني دليل نه دے، د وينزې د خوب په بنياد هيڅ کله هم هغه خُلَفاؤ ته

دوزخي نه شي وئيل کيدے، الله پاک د هغه خُلَفاؤ په حال پوهيږي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب _ ❀❀❀ _ صَلَّى اللهُ علىٰ مُحَمَّد

## د اسلامي خويندو اعتِکاف

## د اعتِکاف څو قسمونه دي؟

د اعتِکاف درې قسمونه دي: **(1) واجِب**: چې د اعتِکاف منښته ئې اوکړه يعني په ژبه ئې اووئيل، صرف په زړه کښې د ارادې کولو سره نه واجِب کيږي **(2) سُنَّت مُؤَکَّدَه**: د رَمَضان ټوله اخيرئ عَشره يعني آخِري لسو ورځو کښې اعتِکاف اوکړے شي. يعني په 20 رَمَضان د لمَر پريوتو په وخت د اعتِکاف په نيَّت سره په جمات کښې وي او د ديرشمې د لمَر پريوتو نه پس يا په 29 د مياشت ليدلو نه پس را اوځي. که په 20 تاريخ ئې د ماښام د لمَانځه نه پس د اعتِکاف نيَّت اوکړو نو سُنَّتِ مُؤَکَّدَه ادا نه شو او دا اعتِکاف سُنَّتِ کفايه دے چې که چرې ټول ئې پريږدي نو د ټولو نه به تپوس کيږي او که ښار کښې يو کَس اوکړو نو د ټولو غاړه به خلاصه شي. **(3)** د دې دوو نه علاوه چې کوم اعتِکاف اوکړے شي هغه **مُستَحَب** او **سُنَّت غير مُؤَکَّدَه** دے.

(بهارِ شريعت ج 1 ص 1021، الدر المختار ج 3 ص 495)

## د مسجِدِ بَيت مختلف شَرعي مسائل

زنانه به په خپل کور کښې اعتِکاف کوي خو هغه ځائے کوم چې د لمُونځ د پاره

مخصوص کړے شوے وي کوم ته چې "**مسجِدِ بَیت**" وائي. او که چرې زنانه د لمُونځ د پاره کور کښې څه ځائے نه وي **مخصوص** کړے نو کور کښې اعتکاف نشي کولے. اَلبَته چې کله ئې د اعتِکاف اِراده اوکړه او یو ځائے ئې د لَمانځه د پاره **مخصوص** کړو نو هغه ځائے کښې اعتِکاف کولے شي. (رَدُّالمُحتار ج3 ص494)

## آیا زنانه د اعتِکاف په وخت د مسجِدِ بَیت نه وتے شي؟

**زنانه** د واجِب یا سُنَّت اعتِکاف په وخت بغیر د څه ضرورت نه د مسجِدِ بَیت (یعني د کور د جمات) نه نشي وتلے. "فتاوىٰ عالمگیري" کښې دي: زنانه به په **مسجِدِ بَیت** کښې اعتِکاف کوي او کله چې اعتِکاف کوي نو د **مسجِدِ بَیت** هغه ټوټه د هغې د پاره داسې ده لکه څنګه چې د نارینه د پاره جمات دے. بغیر د ضرورت نه دې د هغه ځائے نه، نه اووځي. که چرې بغیر د څه ضرورت نه زنانه د مسجِدِ بَیت نه اووځي نو اعتِکاف به ئې مات شي. (عالمګیري ج1 ص211، 212)

په "**بهارِ شَریعت**" کښې دي: "زنانه په **مسجِدِ بَیت** کښې واجِب یا مَسنون اعتِکاف اوکړو نو بغیر د څه عُذر نه د هغه ځائے نه نشي وتے. که چرې د هغه ځائے نه اووتله اګرچې په کور کښې وي نو اعتِکاف ئې مات شو." (بهارِ شریعت ج1 ص1023)

## په هیره د مسجِدِ بَیت نه د وتلو حُکم

**یوې** زنانه په "**مسجِدِ بَیت**" کښې واجِب یا سُنَّت اعتِکاف اوکړو. هغه د واش روم د

پاره اووتله او لار ترې هيره شوه او بهَر دروازې طرف ته لاړه. يوه بله زنانه چې هغه هم په اعتِکاف کښې وه د هغې زنانه د منع کولو د پاره د **مسجِدِ بَيت** نه بهر اووتله، د دواړو اعتِکاف مات شو چې په غلطئ سره هم د اعتِکاف د ځائے نه بهر وتلو باندې اعتِکاف ماتيږي. (احکامِ تراویح واعتکاف مع بیس تراویح کا ثبوت ص 191 مُلَخَّصاً)

## زنانه د کوم کوم حاجَت د پاره د مسجِدِ بَیت نه وتے شي؟

**زنانه** صِرف د حاجَتِ طَبعي (مثلاً اَستِنجا وغيره) د پاره د "**مسجِدِ بَيت**" نه وتے شي. ځکه چې **حاجَتِ شَرعي** (جُمعه او جَمعه) د زنانه د پاره نشته. که چرې کور کښې يوه بَيتُ الخَلاء [يعني واش روم] نزدې وي او بل لرې نو بے عُذره (يعني د څه مجبورئ نه بغير) نزدې بَيتُ الخَلاء پريښودو سره لرې بَيتُ الخَلاء ته تلل نه دي پکار.

(احکامِ تراویح واعتِکاف مع بیس تراویح کا ثبوت ص 191 مُلَخَّصاً)

## د سُنَّت اعتِکاف د پاره روژه نيول ضروري ده

**سُنَّت اعتِکاف** يعني د رَمَضان شريف په آخرو لسو ورځو کښې چې کيږي. په دې کښې روژه شَرط ده، که چرې مريض يا مُسافر اعتِکاف اوکړو خو روژه ئې اونه نيوله نو سُنَّت به ادا نه شي بلکه (هغه اعتِکاف) به نَفَل شي. (بهارِ شریعت ج 1 ص 1022)

## آيا د کرايه په کور کښې مسجِدِ بَيت جوړولے شي؟

د کرايه په کور کښې د لمَانځه د پاره د يوې حصّې مخصوص کولو نيَّت اوکړئ. دا

ځائے اوس د هغوئي د پاره "**مسجدِ بَیت**" شو، دلته اعتِکاف کولے شي.

## د زنانه د غُسل د پاره د مسجدِ بَیت نه وتل څنګه دي؟

**نارینه** اَصلِ مسجِد (یعني هغه ځائے کوم چې د لمَانځه ادا کولو د پاره خاص وي او وقف شوے وي) سره جُخت وَقف ځائے کوم چې د جمات د ضرورتونو د پاره وَقف کړے شوے وي کوم ته چې "**فِنائے مسجِد**" وائي. هلته جوړې کړے شوې غُسل خانه کښې د اعتِکاف په وخت که فرض نه وي نو هم غُسل کولے شي ځکه چې فِنائے مسجِد ته د تللو سره اعتِکاف نه ماتیږي. که زنانه کور کښې مخصوص کړے شوي ځائے کښې اعتِکاف کوي. کوم ته چې "**مسجِدِ بَیت**" وائي او په **مسجِدِ بَیت** کښې د "فِنا" هیڅ تَصَوُّر نشته، په دې وجه زنانه د **مسجِدِ بَیت** نه بےضرورته بهر نشي وتے. که چرې زنانه د فَرض غُسل نه علاوه د بل غُسل مثلاً د ګرمئ په وجه یخ والي حاصلولو د پاره اوځي نو د هغې اعتِکاف به مات شي. (مختصر فتاوٰیٰ اهل سنت ص 102 بتغیر قلیل)

## مسجِدِ بَیت او د اِسلامي خویندو د اعتِکاف ۲۵ مختلف مسائل

**(1)** د نارینؤ اعتِکاف په **مسجِدِ بَیت** کښې نه شي کیدے. (عالمګیري ج5 ص321)

**(2)** د **مسجِدِ بَیت** حُکم د عام وَقف شوي جمات په شان نه وي د دې خرڅول، چا ته ډالئ کول صحیح دي. (البنایه شرح هدایه ج2 ص469)

**(3)** د **مسجِدِ بَیت** په کمره د پاسه واش روم جوړولو کښې هیڅ باک نشته ځکه چې د دې مستقل جمات والا حُکم نه وي. (البنایه شرح هدایه ج2 ص469)

**(4)** لویه کمره یا کور کښې د موجود هال یا ډرائنګ روم د پاره هم د **مسجِدِ بَیت** (یعني کور د جمات) نِیَّت کیدے شي.

**(5)** **مسجِدِ بَیت** (یعني د کور جمات) بدلیدے هم شي.

(دار الافتآء اهل سنت کا غیر مطبوعه فتویٰ)

**(6)** **مسجِدِ بَیت** کښې اخستل خرڅول هم بےکراهته جائز دي. او ناپاکه کَس هم "**مسجِدِ بَیت**" ته داخلیدے شي. (دار الافتآء اهل سنت کا غیر مطبوعه فتویٰ)

**(7)** په **رَمَضان شریف** کښې او د دې مبارکې میاشتې نه علاوه هم زنانه په خپل "**مسجِدِ بَیت**" (یعني د کور په جمات) کښې نفلي اعتِکاف کولے شي. (ایضًا)

**(8)** که چرې د بل کور نه یوه اسلامي خور راشي او هغه هم هغه "**مسجِدِ بَیت**" کښې اعتِکاف کوي نو د هغې اعتِکاف به هم صحیح وي او د بهر نه راغلې زنانه د پاره به هم د کور والا د هغه ځائے نیَّت کول کافي وي.

**(9)** د **مسجِدِ بَیت** د پاره هر یو له د بیل بیل نِیَّت کولو حاجَت نشته بلکه کوم ځائے چې کور والؤ د لمَانځه وغیره د پاره مخصوص کړے دے او هغه صفا سُترا ساتي او هغه "**مسجِدِ بَیت**" ګڼړلے کیږي نو هغه به د ټولو د پاره "**مسجِدِ بَیت**" شي.

**(10)** که اسلامي خور **مسجِدِ بَيت** (يعني د کور په جمات) کښې نَفلي اعتِکاف کښې وه او په څه وجه هغه اعتِکاف مات شو نو د هغې قَضا واجِب نه ده. په "**فتاویٰ شامي**" کښې دي: که زنانه د **مسجِدِ بَيت** نه اوځي اګرچې هغه خپل کور طرف ته لاړه شي، که د هغې اعتِکاف واجِب وو نو مات به شي او که نَفل وو نو پوره يعني ختم به شي.

(رَدُّالمُحتار ج3 ص501)

**(11)** د اعتِکاف کولو د پاره بالغ يا بالغه کيدل شَرط نه دي بلکه پوهه پکار ده. دا غلط فهمي ده چې بے واده (نارينه) يا بے واده زنانه اعتِکاف نشي کولے.

**(12)** د روژې او اعتِکاف په حالت کښې د زنانه خپل بچي له پےٓ ورکول جائز دي.

**(13)** که زنانه واده شوې وي نو د سُنَّت اعتِکاف د پاره د خاوند نه اَجازَت اخستل ضروري دي. د سُنَّت اعتِکاف شروع کيدو نه پس که چرې خاوند د اعتِکاف نه منع کړي نو بيا به هم اعتِکاف ماتوي.

**(14)** د اِسلامي خور د پاره په **مسجِدِ بَيت** کښې د نَفل اعتِکاف هُغه اَحکام دي کوم چې د نارينۀ د پاره دي، البته اِسلامي خور له پکار دي چې کله هم **مسجِدِ بَيت** (يعني د کور جمات) ته ځي نو د نَفل اعتِکاف نيت دې کوي تر څو چې هلته وي اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيۡم! د نَفل اعتِکاف ثَواب به ميلاويږي.

**(15)** د **رَمضانُ المُبارَک** د آخِرۍ عشرې د سُنَّت اعتِکاف د پاره اِسلامي خور له پکار دي چې په شلمه روژه د لمَر پريوتو نه مخکښې د سنَّت اعتِکاف په نيَّت سره مسجِدِ بَيت

ته لاړه شي چې د هغې د شلمې روژې لمَر په مسجِدِ بَیت کښې د موجود کیدلو په حالت کښې پریوځي.

**(16)** اعتِکاف د اعلٰی درجے عبادت دے ځکه د اعتِکاف نیت ضروري دے او نِیَّت د زړه پخے اِرادې ته وائي، مثلاً په زړه کښې [د سُنَّت اعتِکاف] دا نیَّت وي بلکه غوره دا ده چې زړه کښې د نِیَّت سره سره په ژبه هم اووائي چې د اللّٰه پاک د رضا د پاره د رَمضان المُبارَک د آخِرو لسو ورځو د سُنَّت اعتِکاف نیت کووم.

**(17)** د اِسلامي خور د سُنَّت اعتِکاف صحیح کیدو د پاره د حَیض او نِفاس نه پاک کیدل ضروري دي که چرې د اعتِکاف په حالت کښې داسې حالات راغلل نو اعتِکاف به مات شي، لِهٰذا اِسلامي خور ته د اعتِکاف نه مخکښې د خپلې ماهوارۍ د تاریخونو خیال ساتل پکار دي. که د **رَمضانُ المُبارَک** په آخِرو لسو ورځو کښې د ماهوارۍ [یعني مینسِز] تاریخ وي نو د دې نه مخکښې د حَیض اودرولو دوائي خوړلو سره اعتِکاف کولے شي.

**(18)** اِسلامي خور پیشمني کښې د خلقو راپاخولو د پاره د **مسجِدِ بَیت** نه نشي وتے. البته که د سُنَّت اعتِکاف کوونکې اِسلامي خور پخپله پیشمنے نه وي کړے او پیشمنے کوونکې څوک ویخ نه وي نو دا د خپل پیشمني انتظام کولو د پاره یا د دې پیشمني تیارولو والا د راپاخولو د پاره د **مسجِدِ بَیت** نه هم بهر وتے شي. البته هغوئي دې راپاخوي یا (د پیشمني یا روژه ماتي) خوراک دې سمدستي ځان سره راوړي او **مسجِدِ بَیت** ته دې

لا ړه شي ځکه چې د ضرورت په طور چې کوم اجازت میلاؤ شوے دے هغه صرف د ضرورت تر حده پورې دے که قصدًا لیټ کیږي نو اعتِکاف به ئې مات شي.

**(19)** اِسلامي خور په **مسجِدِ بَیت** کښې ناسته وه او هغه ځائے را پریوځي نو هغه دې هم هغه وخت د کور د یوې بلې حصې د پاره د **مسجِدِ بَیت نِیَّت** اوکړي او هلته دې خپل باقي پاتې اعتِکاف اوکړي نو اعتِکاف به ئې صحیح شي.

**(20)** اِسلامي خور په **مسجِدِ بَیت** (یعني د کور په جمات) کښې بے اودسه هم کښیناستے شي، د اعتِکاف په نیت سره به د اعتِکاف د ثَواب حقداره وي.

**(21)** اِسلامي خور دې اعتِکاف کښې په "**مسجِدِ بَیت**" کښې د قرآنِ کریم تِلاوت، ذِکر و دُرُود او د دیني مُطالعې او نوافِلو وغیره کښې خپل وخت تیر کړي، د سوشل میډیا او موبائل وغیره بے ضرورته استِعمال نه دې ځان اوساتي، **مَدَني چینل** کتلو کښې څه باک نشته چې دا د ګناهونو د پروګرامونو نه پاک **چینل** دے [او د شریعت د اُصولو مطابق دے].

**(22)** اسلامي خور اعتِکاف کښې په "**مسجِدِ بَیت**" کښې په ناسته د جامو ګنډلو وغیره کار کولے شي او د کور په کارونو کښې هم په خپل ځائے اوسیدلو سره که چرې اوغواړي نو مشوره ورکولے شي خو بچپله د **مسجِدِ بَیت** نه بهَر نشي وتے.

**(23)** وصل [پیوست] بَیتُ الخلاء **مسجِدِ بَیت** نشي ګرځیدے ځکه چې **مسجِدِ بَیت** د لمَانځه د پاره مخصوص کړے شوي ځائے ته وائي او وصل بَیتُ الخلاء د لمَانځه د پاره

نشي **مخصوص** کیدے. [ځکه چې دا ځائ بیا د طبعي حاجت د پاره استعمالیږي]

**(24)** زنانه د اعتِکاف په دوران کښې په **مسجِدِ بَیت** کښې نابالِغه یا بالِغ بچے د ځان سره ساتلے شي.

**(25)** که په ټوله علاقه کښې د **رَمضان المُبارَک** په آخِرئ عَشره کښې صرف زنانه په **مسجِدِ بَیت** کښې اعتِکاف اوکړي او یو نارینه هم جمات کښې اعتِکاف کښېنا ناست نه وي نو د زنانه د اعتِکاف سره به د ټولې علاقې غاړه نه خلاصیږي بلکه په جمات کښې یو کَس د اعتِکاف د پاره کښینول ضروري دي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب _ ❀❀❀ _ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## په جَمعې سره د لمُونځ کولو اهمیت

**خوږو اومحترمو اسلامي ورونړو!** علَّامه سَیِّد محمود احمد رضوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: هر عاقِل، بالغ، حُر (یعني آزاد) او قادِر (یعني قُدرَت لرونکي) مسلمان (نارینه) د پاره په جَمعې سره لمُونځ ادا کول واجب دي. (فیوض الباري ج3 ص297) (فیضانِ نماز ص140)

## د ماشومانو لمُونځ ګزاره جوړولو بهترینه طریقه

اے عاشِقانِ رسول! جمات کښې د فرض لمُونځ یا د جَمعې پوره اهتمام کوئ بلکه د دې نه علاوه څه نه څه د نفل لمُونځ ادا کولو عادت هم پکار دے او که دا نَفل لمُونځ کور کښې جوړ کړے شوي **مسجِدِ بَیت** (یعني د کور مخصوص کړے شوي ځائے) کښې ادا

کړے شي نو کور کښې د رَحمَت او بَرَکَت نازلیدو سره سره د کور د خلقو ښځې او بچو اِصلاح او د نیک لمُونځ گزاره جوړیدو ترغیب ذریعه هم جوړیدے شي. "ماشومان" هٰغه "خبره" کمه مني کومه چې دوئي ته اوکړے شي البته "هٰغه کار" عام طور کوي کوم چې د هغوئي په مخکښې بیا بیا کولے شي، لِهٰذا خپل ماشومان د لمُونځ گزاره جوړولو د پاره او د ثَواب حاصلولو په ښه ښه نِیَّتونو سره کور کښې د نَفل لمُونځ ادا کولو عادت جوړ کړئ. عظیم تابعي بُزُرگ حضرتِ سَعید بِنِ جُبیر رَحمَۃُاللهِ عَلَیْه فرمائي: "زه د خپل بچي په وجه په کثرت سره (نَفل) لمُونځ کووم." حضرتِ هِشام رَحمَۃُاللهِ عَلَیْه د حضرتِ سَعید بِنِ جُبیر رَحمَۃُاللهِ عَلَیْه کور کښې د لمُونځ ادا کولو وجه بیانوي او فرمائي: "(هغوئي) به په دې اُمِّید سره (نوافِل خپل کور کښې ادا کول) چې ماشوم کښې د لمَانځه ادا کولو رَغبت پیدا شي." (حلیۃ الاولیاء ج4 ص309 رقم 5659)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

امیرِ اہلِ سنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِیَہ کی مسجد بیت بنام: "فیضانِ رمضان"




فیضانِ مدینہ محلّہ سوداگران پرانی سبزی منڈی، بابُ المدینہ (کراچی)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com